# شریعت
ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارکان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۷۶ ګڼه / دوشنبه ۱۸ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۱۸ ثور ۱۴۰۲ هـ.ش / ۸ می ۲۰۲۳ میلادي


## له پاکستاني چارواکو او سیاسي مشرانو سره د امیرخان متقي لیدنه



د افغانســتان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست پاکستان ته د سفر په ترڅ کې پرون له خپل پاکســتاني سیال بلاول بوټو سره وکتل. د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند په خپله ټویټر پاڼه لیکلي، چې په دغه ناسته کې د دواړو هېوادونــو ترمنځ پر اړوندو سیاســي، اقتصادي، ســوداګریزو، ترانزیټــي اړیکو او په یادو برخو کې د لازمو اسانتیاوو د رامنځته کولو په اړه هراړخیزې خبرې وشوې.

د ســرچینې د مالوماتو له مخې په دغه ناسته کې همدارنګه په پاکستان کې د افغان کډوالو او ســوداګرو د اسانه تګ راتګ په تړاو هم اغېزمن بحثونه ترسره شول. ۵مخ


## داکټر قلندر عباد د G5 هېوادونو په ناسته کې:
## د یو شمېر ناروغیو پر وړاندې باید ګډه مبارزه وشي



د افغانســتان د عامــې روغتیا سرپرســت وزیر په ایــران کې د G5 هېوادونو ناســتې تــه د وینا پر مهال ویلــي، چې د هېوادونو تر منځ پــر روغتیایي پوهاوي او تجربــو شــریکولو ســربېره باید د یو شــمېر ناروغیــو پر وړاندې ګډه مبارزه وشــي؛ ځکه ناروغي ســرحد نه پېژني. د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ویلي، چې د هېواد د عامــې روغتیا وزیر په تهران کې د G۵ د غړو هېوادونو د وزیرانو او مرســتیالانو جوړې شــوې غونــډه ته، چــې د ایران د ولسمشــر مرســتیاله انیســه خزعلي یــې هــم برخه‌واله وه، زیاتــه کړې؛ باید د هغو ســاري ناروغیــو مخه ونیول شــي، چې په اســانۍ سره له یوه هېواد څخه بل هیواد تــه انتقالیږي. نوموړي دا هــم ویلي چــې افغانســتان د کرونــا واکســین د تطبیــق په برخــه کــې مخکښ هېــواد دی او د روتیــن، کوریــج او پولیــو واکســینونو د تطبیق په برخه کې ډېرې لاسته راوړنې لري

## برگزاری نمایشگاه صنعتی در کشور

عبدالنصیر رشتیا، عضو اتحادیه صنعتــکاران افغانســتان بــه خبرگزاری آوا گفته است که در ۲۱ ثور ســال جاری بزرگترین نمایشــگاه صنعتی کشور برای ۵ روز در کابل برگزار می‌شود. آقای رشــتیا اضافه کرد که در ایــن نمایشــگاه ۵ روزه که در مرکز نمایشــگاه‌های افغانستان برگزار می‌شــود، شرکت‌های داخلی، محصولات خود را به نمایش می‌گذارند.او با بیان‌اینکه صدها هزار تن از این نمایشگاه دیدن خواهند کرد، خاطر نشان ســاخت که مقام‌های بلندپایه امــارت اســلامی و همچنین مهمان‌هــای خارجــی در این نمایشگاه شرکت خواهند کرد. بر بنیــاد گفته‌های رشــتیا؛ تا کنون ۹۸ درصد غرفه‌های این نمایشگاه از سوی شرکت‌های داخلی رزرو شــده است.رشتیا خاطر نشان ساخت که احتمال می‌رود در ص۵



## پکتیکا کې اغېزمن شوي سلګونه کورونه بیا رغول کېږي

د پکتیکا د طبیعي پېښــو پر وړاندې د مبارزې ریاســت پــه همغږۍ، د طبیعي پېښــو پر وړاندې د مبارزې وزارت د پرېکړې پر اساس، د ناروې کمېټې په مالي ملاتړ په ارګون، نکه، زیروک، ګیان، برمل او ســرحوضې ولسوالیو کې د ۱۲ میلیونو ۸۵۳ زره او ۷۵۰ افغانیو په لګښت د طبیعي پېښو له امله د اغېزمن شویو سلګونو کورنیو کورونه بیا رغول کېږي. د دغه ولایت د طبیعي پېښــو پــر وړاندې د مبارزې رئیس مولــوی مطیع الله منصور وویل:(( د ناروې ۵مخ

## چینایي پانګوالو څو برخو کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې



د صنعــت او ســوداګرۍ وزارت مرســتیال لــه یــو شــمېر چینایي پانګوالو ســره لیدلــې دي. په دې لیدنه کې چینایــي پانګوالو ویلي چې د تجربه لرونکي، مســلکي او مجهز تخنیکي ټیمونو په لرلو ســره غواړي په افغانستان کې د لمریزې برېښــنا، د لویــو لارو جوړولــو، کانونــو او نــورو بېلابېلو برخو کې پانګونه وکــړي. همدارنګه چینایي پانګوالــو ویلــي، چې غــواړي د صنعت او ســوداګرۍ وزارت سره په همغږۍ د افغان سوداګرو یو ټیم ته د چین هیواد له تولیدي فابریکو او کارخونــو څخــه د لیدنې زمینه برابره کړي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال چینایي پانګوالو ته د سوداګرۍ او پانګونې ۵مخ

## د پاکستان له زندانو ۱۵ تنه افغانان خوشي شول

د پاکســتان لــه زندانونو ۱۵ افغانان آزاد شول او په تورخم کې افغان حکومت ته وسپارل شــول. لــه دې وړانــدې هم ســلګونه افغانــان د ګاونډي هېواد له بنــد خونو څخه آزاد او هېــواد کې خپلــو کورنیو ته سپارل شــوي وو. د یو بل خــبر لــه مخــې د کډوالو او راســتنېدونکو چــارو وزارت وایي، چې د غویي میاشــتې په ۱۵ مه او ۱٦ مه له پاکســتان څخه د کندهار سپین بولدک له لارې ۷۰۳ افغان کډوال هېواد ته را ستانه شــوي. یاد وزارت زیاتوي، په راســتانو شــویو کډوالو کــې ۹۴ کورنۍ دي، چې د مرستو تر لاسه کولو په موخه د کډوالو نړیوال سازمان ته ور پېژندل شوي دي.



---

خوارج له صدر اسلام څخه، بیا د نن تر دواعشو — ۲مخ

فردي ژوندکې د دین ارزښت — صفحه ۳

بررسی آثار و پیامدهای طلاق بر خانواده و جامعه — ٤ مخ

---

## کورنیو چارو وزارت د نشه يي توکو په اړه سروې پیلوي



د کابل امنیــې قومنداني وایي، چې د کورنیــو چارو وزارت له نشــه‌یي توکو ســره د مبارزې معینیت اړوند د ســروې ریاســت له کابــل امنیه قومندانۍ سره په ګډه د نشه‌یي توکو د کښت د کچې، د اعتیاد۵مخ

## رویدادهای طبیعی جان ۱۷ تن را گرفته است

حوادث طبیعی در شــانزده روز اخیر در ولایات مختلف کشــور خسارات هنگفت مالــی را وارد نمــوده، جان ۱۷ تــن را گرفتــه و ۶۱ تــن دیگر را زخمی کرده‌است.شفیع‌الله رحیمی، ســخنگوی وزارت دولــت در امــور رســیده‌گی به حوادث طبیعی در یک نوار تصویــری کــه در صفحهٔ تویتر این وزارت نشــر شده گفته‌است، این حــوادث از اول ماه جــاری (ثور) تا کنون در ولایــات میدان‌وردک، غور، کندهــار، پکتیا، پکتیکا، خوســت، غزنی، ننگرهــار، لغمــان و کنر رخ داده‌است.

## سرمقاله

## د بهرنیو اړیکو پرمختګ هم له کورني ځواک سره تړلی دی!

څرنګه چې دا مهال د افغانســتان بهرنیو چارو وزیر د یو لوړ رتبه هیئت په ملتیا اسلام آباد کې له پاکستاني مشرانو سره په خپرو اترو بوخت دی ، شنونکي او د سیاسي چارو څېړونکي هم په دې اړه بېلابېلې تبصرې لري، ځکه د پاکســتان او افغانستان خپلمنځۍ اړیکــې دواړو هېوادونو ته خورا زیاتې مهمې دي،وجه داده چې د دواړه هیوادونــو ترمنــځ ډېره اوږده تقریباً ۲۷۰۰اووه ویشــت سوه کیلومتره سیمه کې ګاونډیتوب موجود دی، بل داچې دواړه ملتونــه خپل منځ کې ژور دیني، کلتوري او تاریخي مشــترکات لري او د اسلامي اخوت په تار سره تړلي دي،بل دا چې پاکستاني چارواکــو د افغانســتان پر هغو ســیمو خېټه اچولــې او لاهم د خپلې ولکې پرتېنګولو لیــګادي ،کومې چې یرغلګر او غاصب انګرېز له موږ نیولې وې، همدا تکی له تېرو ۷۵کلونو راهیســې د دواړو هېوادو ترمنځ د بې بــاورۍ او خپګان اصلي لامل دی، په هرصورت دا چې همدغه تېره موده یعني د پاکستان د جوړېدو له پیل راهیســې آن لاهغه مهال دواړو ترمنځ خوابدي موجوده وه کله چې نوی پاکســتان هم لا دومره ځواکمن نه و ،نو اوس چې افغانستان تېرو پنځه څلوېښت کلونو کې د وخت دواړو ځواکمنو نظامي اتحادونو وارسا او ناټو ترخپلې وسې څپلی، خو بالمقابل پاکســتان بیا له دواړو څخه ګټه او مراعات ومني، مطلب دا چې نه یوازې پاکستان بلکې له ټولې نړۍ سره زموږ د اړیکو پرمختګ یقیناً زموږ له کورني ځواک ، مســتحکم نظام ، اقتصادي وړتیا او تولیدي استعداد سره تړلی دی، په دې مانا چې که هرڅومره زموږ د حکومت نظام پوخ او متحد۵مخ

## د کابل ـ جلال اباد پر لاره د ترافیکي پېښې له امله ۶ تنه ټپیان شوي

د کابــل - جــلا آباد پر لویــه لاره د لغمان په مشــالي کمر سیمه کې د کرولا او ټوډې موټرو ترمنځ ترافیکي پېښــه کې د دریو ښــځو په ګډون شپږ تنه ټپیان شــوي دي. روغتیایي مسوولینو د ټپیانو روغتیایي وضعیت د ډاډ وړ بللی دی. په دې وروســتیو کې په هېواد کې ترافیکي پېښې ډېرې شوي چې د چلوونکو لخوا ناغېړي او بې احتیاطي، ګړنــدی تګ، زاړه او د چپ لاس موټرونه، د ســړکونو خرابوالــی، د خوندیتابــه اصولو او ترافیکي قوانینو ته پام نه کول د یادو پېښو عمده لاملونه بلل کېږي.

## د هېواد لرغونو سیمو ته د سیلانیانو ورتګ ډېر شوی دی

د غور د اطلاعاتو او کلتور ریاســت مســوولین وایــي، چــې د امریکا، بریتانیا، ســلوانیا او جاپان هېوادونو ګرځندویانو د غور ولایت له تاریخي سیمو څخه لیدنه کړې. د یاد ریاست مسولین زیاتوي، هڅه کوي، چې د ګرځندویانو لپار لا ډېرې اسانتیاوې برابرې کــړي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسوولین وایي۵مخ




## اروپایي ټولنه:
## اقلیمي بدلون افغانستان سخت اغېزمن کړی



په افغانســتان کې د اروپایي ټولنې دفتر وایي، افغانســتان د بشري او طبیعي ناورینونــو له اړخه څلورم هېــواد بلل کېــږي او زیاتوي چې اقلیمــي بدلون د خلکــو ژوند ته ډېر زیان رسوي. په افغانستان کې د دې ټولنې دفتــر پر ټویټر لیکلي، دغه ټولنه د اقلیمي ۵مخ

## بازداشت یک تن در پیوند به قاچاق مواد مخدر

یک تن در پیوند به قاچاق مواد مخدر از ســوی نیروهای وزارت دفاع ملی از ولایت تخار بازداشت شد.وزارت دفاع ملی دیروز گفت که: مجاهدین قول اردوی ۲۱۷ عمری یک باشــنده قریه واریچی ولسوالی چاه آب تخار را به اتهــام قاچاق(۵۰) کیلو چرس و (۵۰) کیلــوگرام تریاک دســتگیر کردند.فرد بازداشــت شــده پس از تکمیل تحقیقــات ابتدایی به مرجع ذیربط سپرده خواهد شد.



# خوارج له صدر اسلام څخه، بیا د نن تر دوا عشو

**پنځمه برخه - عبدالرحمن محمود**




د خوارجو په لاس د مبشر بالجنه، بدري صحابي، حضرت علي المرتضی رضي الله عنه شهادت.

په تېره برخه کې مو وویل چې وروسته تر دې چې حضرت علي رض خوارجو ته شکست ورکړ، له دې ناکامۍ وروسته درې خوارجو اتفاق سره وکړ چې درې کسان به وژني ، حضرت علي رض او حضرت معاویة رض او حضرت عمروبن العاص رض.

امام ابن جریر الطبري او نوره علماء د تاریخ فرمایي چې درې تنه د خوارجو لکه ابن ملجم الحمیري او برک بن عبدالله التمیمي او عمرو بن بکر التمیمي ، سره را جمع شول او خپل هغه أقرباء یې یاد کړل چې د حضرت علي رض سره په جنګ کې وژل شوي و، بیا یې سره وویل چې موږ نو د هغوی وروسته ژوند څه کوو ؟ راځئ چې دغه درې ګمراه شوي مشران العیاذبالله و وژنو ، هم به مو خپل انتقام اخیستی وي او هم به مو ښارونه له دوی په امن کړي وي، ابن ملجم وویل چې علي بن ابي طالب پر ما دی، زه به یې وژنم ، برک وویل چې معاویه بن ابي سفیان پر ما دی، عمرو بن بکر وویل چې عمرو بن العاص پر ما دی، پر همدې یې وعده سره واخیسته او یو او بل ته یې قسم وکړ چې تر هغو به نه پر شا کیږو تر څو چې مو هغه خپل متعین کس نه وي وژلی، خپلې تورې یې را واخیستلې او د روژې مبارکې ۲۷مه یې و ټاکله چې هر یو به خپل سړی وژني.

ابن ملجم کوفې ته ولاړ ، خپل حال او مقصد یې حتیٰ له خپلو خوارجو هم پټ وساته ، یوه ورځ دې د بني تیم د قبیلې له خلګو سره ناست و ، د نهروان په جنګ کې د خپلو وژل شویو خوارجو ستاینه او یادونه یې کوله چې یوه ښائسته او حسینه ښځه راغله ، نوم یې قطام بنت الشنجه وه ، د نهروان په جنګ کې د دې پلار او ورور د حضرت علي رض د لښکر لخوا وژل شوي وه ، ابن ملجم چې کله ولیده په محبت او عشق کې یې واقع شو او بیا یې د نکاح مطالبه ورڅخه وکړه ، هغې ورته وویل چې درې زره درهم او یو غلام به راکوې او علي بن ابي طالب به وژنې ، ده ورته وویل په رب قسم چې زه دې ښار ته راغلی یم د همدې لپاره یم.

نکاح یې ورسره وکړه او ورسره یو ځای شو ، هغې ښځې دی همیش دې ته هڅاوه چې حضرت علي کرم الله وجهه په شهادت ورسوي او د وردان په نوم یو بل نفر یې هم ورسره ملګری کړ ، ابن ملجم یو بل ملګری هم د شبیب بن نجده په نوم پیدا کړ ، درې کسان شول ، کله چې د روژې میاشت را داخله شوه ابن ملجم وعده ورسره وکړه چې د روژې پر اووه ویشتمه د جمعې په شپه به سره یو ځای کیږو ، د همدې شپې وعده مې د خپلو هغه دوو نورو ملګرو سره کړې،چې په همدې شپه به هغوی معاویه او عمرو بن العاص وژني او موږ به علي وژنو.

نو دا درېیو کسانو ، ابن ملجم ، وردان ، شبیب ، خپل توري را واخیستلې او په دې شپه راغله د هغې دروازې پر برابر کېناستل له کومې چې حضرت علي رض د سهار لمانځه ته را وځي ، حضرت علي رض به وختي را وتل او د سهار لمانځه ته به یې د « الصلاة الصلاة » په ږغ سره خلګ را ویښول ، کله چې راووتی اول شبیب د توري واری ور باندې وکړ ، بیا ابن ملجم پر سر باندې وواهه ، د ابن ملجم له وار سره د حضرت علي رض مبارکې وینې پر ږیرې را تویې شوې، په دې وخت کې خارجي ابن ملجم ورته وویل چې « لاحکم الا لله ، لا حکم لك یا علي » او حضرت علي کرم الله وجهه دا آیت شریف تلاوت کوی [ ومن الناس من یشري نفسه ابتغاء مرضات الله والله رءوف بالعباد « [ البقرة: ۲۰۷] .

حضرت علي رض ږغ وکړ چې و یې نیسئ ، مګر شبیب وتښتید او وردان هم د تیښتې کوښښ وکړ خو د حضرموت د ښار یو سړی پسې ورسیده او ځای پر ځای یې وواژه او ابن ملجم ژوندی ونیول شو ، په همدې سهار حضرت علي رض و جعده بن هبیره ته امر وکړ چې خلګو ته د سهار لمونځ ورکړي ، هغو خلګو ته لمونځ ورکړ ، بیا یې حضرت علي رض خپل کورته یووړ ، ابن ملجم یې ورته را ویست ، حضرت علي رض ورته وویل ای د الله دښمنه ما ستا سره احسان نه و کړی؟ هغه ورته وویل هو ، بیا حضرت علي رض وفرمایل که زه مړ شوم دی ووژنئ او که زه ژوندی پاتې شوم بیا زه پوهېږم چې څه ورسره وکړم.

او هغه کس چې د حضرت معاویة رض د وژلو ذمه یې أخیستې وه (برك) هغه هم د سهار لمانځه ته د وتلو پر مهال د خنجر واری پر حضرت معاویه رض باندې وکړ چې د ده پر ورانه ولګېد ، بیا بهرنی ونیول شو او ووژل شو ، حضرت معاویه رض ته طبیب وویل چې دا خنجر په زهرو لړل شوی و ، یا دې په اور داغ کوم جوړ به شي او یا یو نوع شربت درکوم چې جوړ دې کړي مګر د شربتو دا منفي أثر دې چې أولاد به دې بیا نه کیږي.حضرت معاویه رض ورته وویل په اور د داغیدلو توان نه لرم ، او اولادونه مې دغه یزید او عبدالله بس دي ، بیا طبیب هغه شربت ورکړل ، حضرت معاویه رض روغ شو، مګر نسل یې قطع شو ، نور اولاد یې ونه شو ، د همدې واقعې وروسته یې پر مسجد جامع باندې عسکر و درول چې د لمانځه په وخت کې به یې پیرداري کول.

او هغه کس چې د عمرو بن العاص وژل یې پر ذمه اخیستې وه (عمرو بن بکر) هغه هم د سهار د لمانځه پر وخت په کمین کې کېناست ، مګر د الله تعالی اراده او تقدیر و،چې په دې ورځ عمرو بن العاص د مریضۍ په وجه لمانځ ته حاضر نه شو، د هغه د عسکرو مشر خارجه بن حبیبه ته امر شوی و،چې لمونځ ورکړي ، عمر بن بکر د شپې په تیاره کې پر خارجه حمله وکړه ، د ده دا فکر و.چې عمرو بن العاص دی ، خارجه یې ځای پر ځای وواژه ، کله چې هغه قاتل ونیول شو باره یې وویل ( أردت عمرا و أراد الله خارجه ) ما خو د عمرو بن العاص ارداه کړې و، مګر الله تعالی د خارجه اراده کړې وه ، دا خبره یې په عربو کې ضرب المثل شوه ، بیا یې دی هم وواژه. د خوارجو معتقدات او د مسلمانانو وینه ځان ته روا بلل او کافران ورته ویل... نور بیا

# نمونه های جنگ فکری

**قسمت هشتم ـ محمد عمر عمری**



کمو نیسم

شاید بتوان کمونیسم را خطرناک‌ترین نوع جنگ فکری نامید؛ زیرا که از ریشه با هر نوع دین و آئین و خدایی مخالف است.

کمونیسم را امروزه بعضی از دانشمندان زاده‌ی فکر صهیونیستی می‌دانند و بر این باورند که یهودیان برای تسلط بیشتر بر دنیا و قدرت‌نمایی بیشتر کمونیسم را به‌وجود آورده‌اند.

به طور کلی یهود بر این باور است که هرگاه تمام دنیا را فساد بگیرد انسان‌ها آغشته به انواع گوناگون گناه شوند مسیح موعودشان که همان دجال باشد ظهور می‌کند و سپس حکومت جهانی یهود را برپا می‌کند. برای همین است که امروزه یهودیان سازمان‌های مختلفی را در گوشه گوشهٔ دنیا براه انداخته‌اند و سالانه هزینهٔ هنگفتی می‌کنند تا مردم را به گناه بکشانند. این موضوع خودش نوشته‌های زیادی می‌طلبد اینجا فقط می‌خواهم اشاره کنم که امروزه مشهورترین سینماهای جهان از جمله هالیوود در دست یهودیان است و فیلم‌ها مبتذل و ضد اسلامی و ضد انسانی‌ای که می‌سازند به هدف گسترش فساد است.

این که کمونیسم را یهود به وجود آورده باشد یا خیر - اگرچه که شواهد تاریخی زیادی بر این امر دلالت می‌کند- فرقی نمی‌کند چرا که کمونیسم هرچه باشد، خطرناک‌ترین ایدئولوژی مخالف اسلام است.

تا کنون شاید اسلام از هیچ مکتب و گروه دیگر این چنین ضربه ندیده باشد.

کمونیسم مکتبی است که حتی فرزندان یک کشور را مخالف آن کشور تربیت می‌کند و به کار می‌گیرد. به عنوان نمونه به تاریخ افغانستان نگاهی بیندازیم، شاید آمریکا در حضور بیست‌ساله‌ی خود، به اندازه‌ی یک‌صدم کمونیست‌ها آدم‌کشی نکرده باشند. در حالی که کمونیست‌ها فرزندان همین خاک و همین مردم را به خدمت خود در آوردند و برای کشتن همین مردم اجیر شان کردند.

کمونیست‌های خون‌خوار بیشتر از هر انسان دیگری آدم کشتند.

البته بماند که امروز همان کمونیست‌ها را که قاتل میلیون‌ها افغان بودند به عنوان شهید یاد می‌کنند؛ نمی‌دانند که کلمه‌ی شهید فقط در اسلام است و در دین دیگری نیست. مکتب کمونیسم اصلا خدا و آخرت را قبول ندارد که بخواهد شهید داشته باشد.

امروز کمونیست‌ها که دست‌شان از حکومت کوتاه شده است به کتاب نویسی و تاریخ نویسی روی آورده‌اند و می‌خواهند از این طریق نیز زهر شان را به افغانستان و اسلام بریزند.

می‌خواهند تاریخ را تحریف کنند حقایق را آن‌گونه که به نفع خودشان است بنویسند تا حداقل در آینده نامشان به عنوان قهرمان در تاریخ بماند.

خون میلیون‌ها مسلمان بی‌گناه که بر گردن‌شان است کافی نیست که حالا می‌خواهند آیندگان را هم فریب بدهند.

این زنگ خطری برای مسلمان‌ها و مجاهدین افغان است که متوجه باشند امروز جنگ تمام نشده است بلکه از میدان نظامی به میدان قلمی تغییر مکان داده است.

باید مجاهدین دست به قلم شوند و تاریخ را بنویسند با همان دستانی که روزگاری اسلحه به دست می‌گرفتند و علیه طاغوت زمان می جنگید ند.

بدانید و آگاه باشید که اگر شما ننویسید دشمنان شما می‌نویسند!

# فساد او مفسد

شپږمه برخه - مولوي نورالحق مظهري

سیاسي فساد:
سیاسي فساد دې ته وایي چې د حاکمیت په ډګر کې نظامونه فاسد شي او یا د نظامونو د واکمنۍ په اړه د خلکو فکرونه منحرف شي.
کله چې په نظامونو کې مشران، د نظام غړي، د ګوندونو رهبران او په عموم کې چارواکي د حکومتولۍ په میدان کې په فساد اخته شي او د نظام پرمخ بیول یې د اسلامي اصولو سره برابر نه وي دلته موږ ویلای شو چې دغه نظامونه په سیاسي فساد اخته دي؛ د بېلګې په ډول: د دې پر ځای چې په نظام کې د الله تعالی له لوري خلافت، د الله تعالی د دین ساتل او نشرول، د انساني ټولنې خدمت په پام کې ونیول شي د نورو شیانو لپاره حکومتولي کېږي د مثال په ډول: د ځینو خلکو شخصي ګټې په پام کې نیول کېږي، د کفري هیوادونو د پالیسۍ مراعات کېږي، د انسانانو حریت او آزادي ورڅخه سلبېږي او په انساني ټولنه کې ترپګنۍ او دښمنۍ ته خلک هڅول کېږي.



همداسې په خلکو کې د اسلامي حاکمیت خلاف فکر پیدا کول هم د سیاسي فساد یوه برخه ده او دا ځکه ډېره خطرناکه ده چې پر مځکه د الله تعالی د نظام د حاکمیت مخه نیسي چې په نتیجه کې پر انساني ټولنې کافران یا فاسقان حاکمان مسلطېږي او په تدریجي ډول د الله تعالی له لوري را استول شوی دین د خلکو د ژوند څخه بېګانه کېږي.
د سیاسي فساد څو بېلګې:
۱-حاکمیت او نظام د شریعت څخه بېل ګڼل.
۲-په حاکمیت کې استبداد او بې عدالتي.
۳-په حکومتولۍ کې د اشتراکیت یا سوسیالیزم نظریه.
۴-په حکومتولۍ کې د آزاد بازار یا کاپیټالیزم نظریه.
۵-په نظام کې د دین عدم خودکفایۍ نظریه.
۶-په نظام کې د اسلامي اصولو څخه بهر ګوندیز یا شخصي انحصار.
۷-د عامو ټولټاکنو له لارې د نظام جوړول او چلول.
۸-نا اهل کس ته د وظیفې سپارل.
۹-خلک او نظام د یو بل په مقابل کې دربدل.
۱۱-او هر هغه عمل چې اسلامي حاکمیت ټکنی یا معطل کوي.
دوام لري...


# استاد څنګه بریالی کېدای شي؟

بورجان همراز

استاد هغه وخت بریالی کېدای شي، چې په لاندې ارونو برابر وي:
۱- استاد باید په درسي موضوع او مضمون واکمن او حاکم وي، ښه او پوره مطالعه په نوموړې موضوع کې ولري.
۲- د درس او تدریس په ټولو میتودونو باید خبر وي، کافي مالومات د میتود تدریس په برخه کې ولري.
۳- خپل زده کوونکي باید په دقیقه توګه وارزوي او مطالعه کړي، چې څوک څومره ورتیا لري، او څنګه تدریس ورته وشي، لایق او نالایق زده کوونکي باید ورته مالوم او جوت وي.
۴- استاد باید د افهام او تفهیم لهٔ اصولو خبر وي، او درس باید داسې تشریح کړي، چې تر وروستي زده کوونکي پورې ټول پرې پوه شي.
۵- استاد باید لهٔ خپلو زده کوونکو سره د خپل ورونو او بچیانو په څېر له مهربانۍ ډک چلند وکړي، باید دومره مهربانه او عاطفي وي، چې هر زده کوونکی په ډېرې اسانۍ پوښتنه ترې وکولای شي.
۶- استاد باید په دوامداره توګه د زده کوونکو لهٔ کورنیو سره په اړیکه کې وي، د ښوونځي په داخل کې د هغوی چلندونه باید تعقیب کړي او لوفرو او لوچکو سره یې له ناستي او تګ راتګ څخه منع کړي.
۷- استاد باید خپل زده کوونکي سپک نه کړي، که کومه تېروتنه ترې کېده، ښېښه ورته وکړي او په مهربانۍ یې وپوهوي.
۸- استاد باید عادل او انصافدار وي. او له هر زده کوونکي سره په عادلانه توګه چلند وکړي.
۹- استاد باید ذهین او ځیرک وي.
۱۰- استاد باید په ټولنه کې محبوبیت ولري، او د ښو اخلاقو څښتن وي.
۱۱- استاد باید ځانګړې شخصیت او ځانګړی کردار ولري، او په ځانګړي انداز خبرې وکړي.
۱۲- استاد باید ځانګړی خوی او عادت ولري، او د خپل همدې خوی/عادت له امله په ټولنه کې ځانګړی ځای پیدا کړي.
۱۳- استاد باید هر اړخیزه مطالعه او مالومات ولري، او د پوهې او مالوماتو کچه یې پراخه وي.
۱۴- استاد باید خاص رول ولري، او خپل کرکټر ثابت وساتي.
۱۵- استاد باید حوصله ناک، او د پراخې سینې څښتن وي.
۱۶- استاد باید د هرې خبرې، پوښتنې او ځواب زغم او حوصله ولري.
۱۷- استاد باید ثابت دریځ ولري.
۱۸- استاد باید د جرائت خاوند، او په لوی غونډو/ د ډېرو وګړیو پر وړاندې د خبرو کولو جرائت ولري.
۱۹- استاد باید خپلو وطنوالو او زده کوونکو ته اسلامي او وطني روحیه ورکړي.
۲۰- استاد باید اسلام پال، هېوادپال، او انسان پال وي.

# فردي ژوندکې د دین ارزښت

یونس روهي



څرنګه چې انسان له ډېرو کمالاتو هنرونو او غټې مرتبې بیا هم یو نیمګړی مخلوق دی، محتاج دی، بدني اړتیاوې اوکمزوري لري او د وېرې، پرېشانۍ او داخلي احساساتو د باو لاندې راځي آن تردې چې کله ناکه خو ځینې انسانان دومره په وېره او وارخطایۍ کې ګېر شي چې ایله د خپل ځان په وژلو زړه ته سکون لټوي. ښکاره ده چې د انسان دا ډول ستونزې بل هېڅوک نه شي هولارولای پرته له هماغه څښتنه چې دی یې له نیستۍ نه را هست کړی، نو ځکه په فطري ډول د دغسې ناخوالو پرمهال انسان کومې داسې ماورا طبعیت هستۍ ته پیغام لېږدوي چې هغه د بشپړ واک او قدرت مالک وي، په هر کړاوکې یې مرسته وکړي او پرې ډاډه واوسي، نو له همدې امله خو یو غټ شمېر انسانانو کله یوڅه کله بل څه ته مخه کړې، تردې چې د خپلو بې بنسټه خیالاتو پرمټ یې هغه شي ته د فوق العاده واک اختیار ورکولو تکل کړی او پر هماغه خیالي برلاسي شکل قانع شوی او زړه یې پورې تړلی دی هو یقیناً انسان له یو دغسې قادر، علیم او خبیر خدای نه پرته نه شي ډاډه کېدای ، زړه یې نه کرارېږي او د ماغ یې نه هوساکېږي ، خو کله چې انسان بیا د خپل خالق لوری او درک وپېژني ، د هغه له لارښوونو ځان خبر او هغه د خپل ژوند تګلاره وټاکي،نو بیا دغسې انسان ته یو دیندار سړی ویل کېږي او دیندار سړی خو معلومه ده چې څرنګه خپل خالق او څښتن سره مخلص وي ،همدغسې خپلې کورنۍ ، مېرمن ، اولاد ،مور اوپلار ، ورونه ،خویندې، نورخپلوان ،ګاونډیان ملګري ، آشنا اونا اشنا خلک ،لارویان ، بې وزلي او هر ډول د ناستې اندېوالان ټول محترم ګڼي، له ټولو سره ښېګڼه او غوره چلند کوي، له ځورولو یې ځان ساتي او خدمت یې د خپل ځان لپاره ګټه او ثواب ګڼي ، پر دین ولاړ سړی پرچا ظلم نه کوي، له خیانت او ټګۍ ځان ساتي، غلا او تېری بد ورته ښکاري، په ټولنه کې د یو ګټور او صالح فرد چلند کوي او هېڅ ډول جرایمو ته نه ورنږدې کېږي، تردې چې پر نورو څارویو هم ښه ډېر شفقت او ترحم کوي. بنا پردې ویلای شو چې دیني تعلیمات او پرهغو کلک درېدل او عمل پرې کول د فرد په ژوندانه کې خورا زیات اغېزناک رول درلودلای او په نتیجه کې خپله هغه ته یو هوسا، ښاغلی ،پتمن او ډاډه ژوند چمتوکولای شي، داسې تل له ډېرو ناخوالو ،پرېشانیو اوکورنیو او ټولنیزو لانجو په امان وي، خو په مقابل کې یو مادي او له دینه وتلي کس سره له پوره وسایلو ، زامنو ، شتمنیو او زورځواکه بیا غمجن ،وارخطا، پرېشانه اوستومانه وي، هېڅکله ډاډ او سکون نه شي ترلاسه کولای ، سم خوب نه شي کولای،له خوراک ، څښاک او حتی مېرمنو نه خوند نه شي اخیستلای ، داسې انسانان تل په خپلو تېرو کړنو حسرتونه او پښېمانۍ کوي او دراتلونکې لپاره همیشه اندېښمن او وارخطا وي دا ډول ژوند یقیناً غیر فطري ژوند وي، دا بالکل د هغو اصولو پرخلاف وي چې الله تعالی دکائناتوانتظام لپاره ټاکلی او هرڅوک چې سیلاب ته مخامخ ورځي یا لکه د یوې کارخانې او ماشین د ټولو څرخونو پرخلاف چې څوک یو څرخ په بل لور ګرځوي،نو خامخا به خپل ځان تباه کوي، مشکل به جوړوي او ژوند به خرابوي الله تعالی همدغه مطلب په صفا ټکو څرګند کړی چې وایي. ژباړه: یعنې څوک چې زما له یادولو چې دین مراد دی ډډه کوي،نو یقیناً د هغه لپاره د تنګسی او پرېشانۍ ژوندون دی.

# تصمیم سازمان ملل مبنی بر ماندن در کنار مردم افغانستان



تصمیم سازمان ملل مبنی بر ماندن در کنار مردم افغانستان، یک تصمیم خلاقانه است که نشان می دهد، مسایل بشری جدا از برنامه سیاسی محاسبه می شود.
مبصرآژانس باختر می نگارد؛ در یکی دو ماه اخیر برخی از مسایل، روابط میان امارت اسلامی و شماری از کشور ها و نهاد های جهانی را دستخوش تحولات کرد ، مگر دیپلماسی فعال امارت اسلامی و برخورد معقولانه به قضایا باعث شد که وضعیت سیر مثبت و فعال را در پیش گیرد.
در این میان، تصمیم یوناما یا دفتر سیاسی سازمان ملل که بر بعضی از برنامه و اقدامات امارت اسلامی ایراد هایی داشت و کار شمار زیادی از کارکنان خود را تعلیق کرده بود ، در خور بحث است؛ این مشکل تا اندازه پیش رفت که یوناما میان ماندن و رفتن یکی را انتخاب کند. شماری از کشور ها به این مشکل دامن زدند و تلاش کردند تا سازمان ملل در شرایط دشوار افغانستان را ترک کند، مگر انتونیوگوتریش سرمنشی سازمان ملل در نشست دوحه که هفته گذشته به میزبانی سازمان ملل و با شرکت نمایندگان ۲۵ کشور ونهاد های جهانی در رابطه به افغانستان برگزار شد، اعلام داشت که سازمان ملل در کنار مردم افغانستان باقی می ماند و این جواب مناسب برای آنانی بود که تلاش داشتند سازمان ملل را وادارند که افغانستان را ترک کند و به این ترتیب برنامه انزوا امارت اسلامی را تا مرحله تطبیق بکشانند. بیرون شدن سازمان ملل از افغانستان باعث می شد که نهاد و سازمان های دیگر جهانی هم افغانستان را ترک کنند و به این ترتیب مغرض ترین برنامه که انزوا امارت اسلامی است، تحقق می یافت.
مگر سازمان ملل در یک تصمیم خلاقانه، ماندن در کنار مردم افغانستان را ترجیح داد و به این ترتیب ثابت کرد مسایل بشری نسبت به برنامه سیاسی اولویت دارد وتقویت تلاش‌های بشردوستانه در حمایت از مردم افغانستان، همچنان ادامه خواهد یافت.
از طرف دیگر، ماندن ملل متحد و نهاد های مرتبط به آن در افغانستان، نشان می دهد که امارت اسلامی توانسته است، معقولیت عملکرد خود را ثابت کند و این نهاد ها را در کنار مردم افغانستان حفظ کند .
بدون شک دیپلماسی آرام و سازنده امارت اسلامی، نمایانگر اعتماد کشور های بیرونی به بهبود وضعیت در افغانستان است و این که امارت اسلامی می تواند، وضعیت کشور را به سمت مثبت هدایت کند.
ادامه کار سازمان ملل در افغانستان، یک امتیاز نیست بل نمایانگر آن است که امارت اسلامی دارد جایش را به عنوان یک واقعیت سیاسی و رهبری کننده درافغانستان ثابت می کند و نسبت به همکاری و همگرایی منطقه یی و فرا منطقه یی دیدگاه فعال دارد و در تعامل با کشور های جهان رویکرد مثبت داشته است و حضور آن در صحنه سیاسی افغانستان از سوی جامعهٔ جهانی در حال پذیرفته شدن است.
تحلیل سیاسی

# بررسی آثار و پیامدهای طلاق بر خانواده و جامعه

پوهنیار مهدی کاظمی

خانواده از ابتدای تاریخ تاکنون در بین تمامی جوامع بشری به عنوان اصلی ترین نهاد اجتماعی، زیربنای جوامع و منشأ فرهنگها، تمدن ها و تاریخ بشر بوده است. خانواده مؤثرترین عامل انتقال فرهنگ و رکن بنیادی جامعه است که در شرایط مختلف در تأثیر و تأثر متقابل با کل جامعه و عوامل اجتماعی است. انسانها در خانواده به هویت و رشد شخصیتی دست می یابند و موجب بالندگی و رشد جامعه می شوند. خانواده به عنوان کوچک ترین واحد اجتماعی، پایه و اساس ساخت اجتماع محسوب می شود. با این حال، سست شدن بنیان خانواده پیامدهایی چون طلاق را به دنبال دارند. طلاق، گسستن و فروپاشیدن و نابودی کانون گرم و آرام بخش زندگی است که اثرات جبران ناپذیری براعضای خانواده می گذارد. طلاق خاتمه دادن به پیوند زناشویی تحت شرایط خاص قانونی، شرعی و عرفی است که پس از آن زن و شوهر نسبت به یکدیگر حقوق و تکالیفی ندارند.

و تمتع جنسی از طریق مشروع میسر نشود و فرد چنین نیازی را به دلیل تجربه جنسی قبلی شدیدتر از گذشته احساس نماید، این منجر به بروز خطرات و معضلات اجتماعی می شود.

**پیامدهای اجتماعی و فرهنگی بر فرزندان**

آمارها مؤید این نکته است که بیشتر جرایم کودکان و نوجوانان ریشه در مسائل و مشکلات خانوادگی، طلاق و ازهم پاشیدگی کانون گرم خانواده دارد. میزان جرایم و خودکشی در اطفال باقی مانده از طلاق به-نحوی بارز افزایش می یابد، این اطفال خیلی بیشتر از دیگر همسالان خود مورد سوء استفاده جنسی قرار می-گیرند و بی بند وباری و اعتیاد نیز درمیان آنان شیوع بیشتری دارد.

**پیامدهای عاطفی بر زنان**

زنان در ارتباط با فرزندان خود دچار دوگانگی نقش می شوند، زن مطلقه برای فرزندانش هم، باید پدر باشد هم مادر و مرد نیز متعاقباً چنانچه دوباره در کنار آنان است و حتی گاه کوششی را هم برای سازش و ایجاد پیوند میان والدین به عمل می آورند که معمولا به شکست منجرمی شود. اثرات که طلاق برکودکان می گذارد و گاه جبران ناپذیراست عبارت از: افسردگی، وسواس، اضطراب، پرخاشگری و عصیان، بی قراری، گوشه نشینی، انتقام جویی، بی رحمی، غمگین بودن، زود رنجی و اختلالات روانی می باشد.

**آثار و پیامدهای طلاق بر جامعه**

مطرح کردن موضوعی مانند طلاق به عنوان مسأله اجتماعی مستلزم تبدیل آن از گرفتاری های خصوصی به مسایل عام اجتماعی است، زیرا گرفتاری های خصوصی ناشی از شخصیت فرد و رابطه نزدیک با آن است، اما مسایل اجتماعی اموری است که ازسویی بر شرایط خاص و زندگی خصوصی افراد حاکم است و ازسوی دیگر به شرایط و سازمان جامعه و چگونگی ساخت وسیع اجتماعی وابسته می باشد. در واقع وقتی مردم



یکی از دغدغه ها و نابهنجاری های اجتماعی که اذهان عموم را به خود مشغول کرده، مسأله طلاق می باشد. در حال حاضر این پدیده در تمامی جوامع به شکل معضل اجتماعی، مشکلات زیادی را برای افراد و خانواده های در معرض طلاق به وجود آورده است. در واقع خانواده همان نهادی که به اعضای خود احساس آرامش و امنیت می دهد و به عنوان پایدارترین و مؤثرترین وسیله حفظ ویژگیهای فرهنگی و عامل انتقال آنهابه نسل های بعدی بوده است، اکنون دست خوش تغییرات و آسیب های فراوانی شده است. با توجه به اهمیت انکار ناپذیر نهاد خانواده در هر جامعه، بررسی پیامدها و آثار این مسأله مهم به نظر می-رسد. پس از وقوع طلاق، زنان در مقایسه با مردان، با تغییرات و چالش های مضاعفی در زندگی روبه رو خواهند شد. این پیامدها گاه بلافاصله پس ازطلاق، و گاه با فاصله زمانی طولانی تری بر زندگی فرد تأثیر خواهد گذاشت. در حقیقت همانگونه که پیوند بین افراد طبق آیین و قراردادهای رسمی و اجتماعی برقرار می شود. چنانچه طرفین نتوانند، به دلایل گوناگون شخصیتی، محیطی، و اجتماعی و... با یکدیگر زندگی کنند به ناچار طبق مقررات و ضوابطی ازهم جدا می شوند.

**پیامدهای اجتماعی و فرهنگی بر زنان**

زنان مطلقه از گزند طعنه ها و نگاه های کنجکاوانه دوستان، اطرافیان و آشنایان درامان نیستند، مذموم بودن طلاق در جامعه و مقصر شمردن زن در طلاق، منجربه تنگی روابط اجتماعی زن مطلقه می شود و بدین ترتیب ارزشهای حاکم بر جامعه بیش از مشخصات فردی بر مشکلات زنان مطلقه می افزاید زیرا که زنان حمایت-های اجتماعی خود را از دست می دهد.

**پیامدهای اجتماعی و فرهنگی بر مردان**

نگرانی در مورد سرنوشت فرزندان و آینده او. اختلالات و انحرافات جنسی از آنجا که یکی از کارکردهای خانواده، ارضاء تمایلات جنسی بوده است، با فروپاشی خانواده، فرد با فقدان ارضاء جنسی مواجه می شود. چنانچه فرصت ازدواج

کودک با او زندگی کند، باید هم نقش مادر و هم نقش پدر را بر عهده بگیرد و این صدمات و آسیب های روحی فراوان از قبیل عصبانیت و افسردگی به دنبال دارد.

**پیامدهای عاطفی بر مردان**

آنجا که بسیاری از مردان توانای کمتری در کنار آمدن با مشکلات دارند و توانایی روانی زنان در این گونه مسایل بیشتر وعلت آن نیز ترشحات هورمون استروژن است، هنگام طلاق، مردان به دلیل وابستگی به همسر از نظر مسایل تربیتی و مسایل حاکم بر زندگی ضربه بیشتری می بینند. همچنین مردان به خاطر مشغله کاری خارج از محیط خانواده نمی توانند همانند زنان زندگی را اداره کنند و از سوی دیگر آشنایی کمتری بامشکلات محیط خانواده اعم از تربیت فرزندان و مسایل حاکم بر خانه دارند، دچار شکست روحی و روانی می شوند و در نهایت پس از طلاق، خشم، تأسف، عشق و نفرت درهم می آمیزد ویا مرد احساس راحتی کنند، زیرا براین باور است که دیگر فشارها و دخالت ها تمام شده است، اما ترس از آینده ای نامعلوم، این احساس راحتی موقت را ازبین می برد. در این دوران، مردان با یادآوری مکرر گذشته و بررسی رابطه ازهم گسیخته خود، دچار اختلال تمرکز می شوند و نمی توانند به همه چیز به طور طبیعی فکر کنند.

**پیامدهای روانی و عاطفی بر فرزندان**

ویژگی های مشترک فرزندان پس از طلاق، احساس گناه است از این که آیا آنان در جدایی میان والدین خویش نقشی داشته اند؟ آیا آنان نسبت به ادامه زندگی پدر و مادر خود دچار قصور و کوتاهی گشته اند؟ احساس دیگری که در رفتار این کودکان آشکار می گردد نگرانی از گزینش یکی از والدین است، به دلیل این که پدر و مادر هردو نزد فرزند به یک اندازه محبوب و دوست داشتنی هستند، کودکان از پذیرش یکی از آنان و دوری از دیگری دچار ترس و اضطراب می گردند، بنابراین رؤیای که همواره در ذهن آنان وجود دارد، امید به بازگشت پدر و مادر و زندگی

احساس کنند که ارزشهای اجتماعی آنها نادیده گرفته می شود و یا تهدید می گردد و بین مطلوب اجتماعی و واقعیات اجتماعی اختلاف وجود دارد، بحران اجتماعی یا مسأله اجتماعی ایجاد می شود. هم چنین برخی صاحب نظران معتقدند: طلاق زمانی به صورت آفت یا بلای اجتماعی تجلی می یابد که از حدود معینی خارج شده و فراوانی آن غیر متعارف گردد. جهت تشخیص این وضعیت، می توان آمار طلاق را با آمار ازدواج مقایسه نمود. آثار و پیامدهای طلاق بر جامعه عبارت از بحران ارزش ها، بحران و جدان جمعی، کندشدن روند پیشرفت و بحران رضایت می باشد.

**نتیجه گیری**

برای رسیدن به جامعه ی ایده آل لازم است، خانواده که عنصر تشکیل دهنده جامعه است، سالم باشد. در نتیجه هرگونه اختلال در این کانون گرم یا ازهم پاشیدگی آن سلامت جامعه را مختل می سازد. با ذکر این نکته، آموزش و آگاهی دادن در زمینه ازدواج و لزوم شناخت یکدیگر قبل از ازدواج از راه کارهای اصلی برای جلوگیری ازهم پاشیدگی خانواده ها می باشد. محقق در این مقاله تلاش کرده تا ابتدا به پیامدهای طلاق در بعد اجتماعی، فرهنگی، روانی و عاطفی بر تک تک اعضای خانواده از جمله زن، مرد و فرزندان بپردازد، سپس آثار این مسأله بر روی اجتماع در سطح کلان تر و مشکلاتی که طلاق برای جامعه به ارمغان می آورد به طور اجمال گفته شود. به نظر می رسد آگاهی جوانان پیش از ازدواج و فرزند مهم ترین عامل برای پیشگیری از طلاق می باشد. هرچقدر پیش از ازدواج در زمینه آگاهی دادن به جوانان سرمایه گذاری شود و ازدواج ها عاقلانه صورت گیرد سلامت، بقا و پایداری خانواده ها افزایش می یابد. در نتیجه جامعه ای پویا، روبه رشد، سالم و فعال خواهیم داشت و درغیر این صورت صدمات جبران ناپذیری به خانواده و جامعه وارد می شود.

## رښتینی عشق!

**مولوي هاشم ذاکر**


وگوره رښتني عشق تر داره پورې راوستم
شکر پاکې مینې مې تر یاره پورې راوستم
ډېرې تورې شپې مې د وحشت په غبږ کې روڼې کړې
دغه دی شوگیر مې تر سهاره پورې راوستم
تېر یې کړم له سترو او ستومانه پړاوونو نه
جام د شهادت مې تر قراره پورې راوستم
خیر دی که د څو ورځو ژوندون مې مرگي واخستو
هجر تر وصال او تر دیداره پورې راوستم
اې د خدای د مینې درده سل ځلې در ځار شمه
څنگه دې د حسن تر بازاره پورې راوستم
دې خوږو شیبو مې د عمرونو تنده ماته کړه
زه یې تر کوثر او تر نگاره پورې راوستم
څو د وینو پلونه مې ذاکره پر لار پرېښودل
سم یې د ښکلا تر لاله زاره پورې را وستم

## مثنوی!

**فیض الدین»لشکری«**

بر مسلمان پیشوا پیغمبر است
سوی رحمت رهنما و رهبر است
گفت پیغمبر مشو باطل پرست
بنده در حق شو تو باشی حقپرست
پشت باطل چون روی باطل شوی
لطف حق را کی ز بد حاصل شوی؟
لطف حق شامل به احوال کسیست
بندگی سازد چو آن مال کسیست
کس مبادا گر نسازی بندگی
کس شوی گر تو بسازی بندگی
بندگی شرط مسلمان بودن است
پیروی از حکم قرآن کردن است
ای مسلمان ای مسلمان باخبر
زاین جهان بر آن جهان سودا ببر
نیک و بد باشد چو سودای جهان
عاقبت نیکی شود مرهم بجان
چون تو نیکی کن دگر غم را مخور
می خورد غم را چو نیکی ها بگور
درحقیقت بندگی بخشد بهشت
غیر آن باشی شوی بد سرنوشت
ای خدای مهربان عاشقان
لطف کن بر حال زار عاصیان
بندگانت را چو دیدی در خطا
من چو باشم روسیاه و ناروا
توبه بشکستم چو هستم شرمسار
من پشیمانم ز فعل بد هزار
آنچه فرمودی زما سرزد خلاف
خالقا! دست دعا دارم معاف

# افغانستان کې د ترهګرو د شتون خبره یو خیال دی



له افغانستان سره نړیوال تعامل باید د دغه هېواد د واقعیتونو پر بنسټ وي، د شرطونو وړاندې کول زیاتره تبلیغاتي اړخ او په سیمه کې د قدرتونو د مداخلو توجیه ده.

په داسې حال کې چې د نړۍ په هېوادونو کې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو بحثونه ډېر شوي، زیاتره هېوادونه هڅه کوي چې له اسلامي امارت سره رسمي تعامل وکړي، داسې هېوادونه هم شته چې د خپلو ستراتېژیکو ګټو پر بنسټ په نړیواله ټولنه کې د اسلامي امارت د داخلېدو مخه نیسي او د افغانستان د اوسني نظام د رسمیت پېژندلو لپاره شرطونه وړاندې کوي.

په دې وروستیو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال ویلي، چې دغه هېواد د اسلامي امارت رسمیت پېژندلو ته خپل شرایط لري.

ستونزه دا ده چې امریکا او یو شمېر نور هېوادونه چې د امریکا او نورو قدرتونو اشارې ته انتظار باسي، تل په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د شتون خبره کوي او تل افغانستان د ترهګرۍ د ځالې په توګه یادوي، خو په دې اړه یې هېڅ ډول اسناد نه وړاندې کوي او هېڅکله هم په دې برخه کې له اسلامي امارت سره د یو منطقي بحث لپاره نه وړاندې کېږي.

په داسې حال کې چې اسلامي امارت په وار وار ټینګار کړی دی، که د افغانستان له لوري د نورو پر وړاندې کومه امنیتي ستونزه وي، کولای شي په مستقیم، مستند، او مدلل ډول یې مطرح کړي، تر څو اسلامي امارت هغه ته رسېدنه وکړي، اسلامي امارت ټینګارکوي چې په هېواد کې یې سراسري امنیت تامین کړی دی، بې له شکه د شاوخوا هېوادونو امنیتي اندېښنو ته د حل توان لري، خو اجازه نه ورکوي چې دا اندېښنې خیالي او تبلیغاتي وي.

له بده مرغه د امریکا په ګډون یو شمېر هېوادونه د ډار اچونې مسئله په نورو هیوادونو کې د خپلو مداخلو د توجیه کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه کاروي او یا هم داسې نور هېوادونه چې په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د شتون په نامه پر خپلو کورنیو ستونزو پرده اچوي، یا هم د ترهګرو ډلو په نامه د خپلو سیاسي مخالفینو د ځپلو لاره لټوي، په ټوله کې ترهګري یوه تبلیغاتي وسیله ده چې زیاتره له مدرک او دلیل پرته مطرح کېږي.

په دې کې شک نشته چې په افغانستان کې ستونزې شته، خو دا ستونزې په خرد او تدبیر سره حل کېدای شي، او اسلامي امارت په مختلفو برخو کې د ستونزو د حل اراده، او د صادقانه همکارۍ تمه لري، نه د داسې نسخو وړاندې کول چې زموږ د ملت درد پرې دوا نه شي. اسلامي امارت له نړیوالې ټولنې سره رغنده خبرو ته چمتو دی، خو له افغانستان سره نړیوال تعامل باید د دغه هېواد د واقعتونو پر بنسټ وي، د لا زیاتو شرایطو وړاندې کول په سیمه کې د قدرتونو د مداخلو لپاره زیاتره تبلیغات او توجیه ده او اسلامي امارت دغه شان د غلطو افکارو تحقق اجازه نه ورکوي.

## بلخ کې ۴۰۰ کسانو ته ...

حاجي رسول داد شینواري د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې په دغه ولایت کې یې د ۵ میلیونو ډالرو په لګښت د اوسپنې ویلې کولو فابریکه جوړه کړې، چې ۴۰۰ کسانو ته په کې د کار کول زمینه برابره شوې ده.

شینواري زیاته کړه چې د یو هېواد د ترقي او پرمختګ اصلي لامل په هېواد کې پانګونه بلل کېږي او په همدې موخه یې په خپل هېواد کې پانګونه کړې ترڅو خپل هېواد او ولس د ښېرازۍ او پرمختګ لامل وګرځي.

د هغه په وینا دغه فابریکه کولای شي د بلخ، جوزجان، سرپل او فاریاب ولایتونو د وسپنې اړتیا پوره کړي او په مناسب قیمت یې عرضه کړي.

د یادونې وړ ده چې بلخ ولایت کې دا لومړۍ فابریکه ده چې له تېرو پنځو کلونو راپدیخواه فعالیت کوي.

## د حسن عباس وروستی ...

ی بدنامه کړي؛ دغه شان کتابونه په لوستلو نه ارزي. په ورته وخت کې، د سیاسي چارو کارپوه مفتي محمد بشار وایي: حسن عباس ناکامه هڅه کړې ده چې د افغانستان اسلامي امارت په تړاو د افغانستان ولس بې باوره کړي، د قومونو ترمنځ نفرتونه وزېږوي، د افغانستان استقلال تر سوال لاندې راولي او د افغانستان د تجزیې لپاره دښمن ته خام مواد په لاس ورکړي. بشار زیاتوي: حسن عباس د افغانستان له تاریخ سره نابلده دی او د دغه ولس په تړاو معلومات نلري او د هغه لیکنه تر ډېره حده په افواهاتو، تبلیغاتو او درواغو باندې بنا ده. د هغه په وینا، د حسن عباس په لیکنه او کتاب کې هېڅ معتبره سرچینه شتون نلري او خبرې یې ټول له واقعیتونو څخه لرې دي.

د پخواني حکومت د ملي دفاع وزارت ویاند دولت وزیري ویلي دي: حسن عباس په خپل کتاب کې پر هر چا تکونه کړي دي؛ دا ځکه چې دوی د خپلې پروژې یوه برخه عملي کړې ده؛ اوس بلې پروژې ته شرایط او زمینه برابروي.

دی زیاتوي: د کتاب ځواب، په لنډه توګه دا ده چې موږ یو واحد افغان ملت یو او داسې لیکنې مو سره نشي بېلولای.

هغه څرګنده کړې ده: استخباراتي کړۍ کله ناکله د دې لپاره چې یو ملت په خپلو کې بې باوره کړي او د هغوی په منځ کې د نفرت او غوصې تخم وشینديی؛ نو د یوې موضوع د سوکه کولو لپاره په خپله ځینې معلومات چې نور دوی ته اهمیت و نلري؛ افشا کوي.

لیکوال او ژورنالېست داوود جنبش لیکي: د حسن عباس کتاب له خیالي افسانو ډک او د افغانستان په اړه د پنجابي ذهنیت غبرګوونکی دی او ځکه یې د فرضیو او کیسو منلو کې احتیاط اړین دی.

د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد هم، حسن عباس یو استخباراتي مامور او اجیر بللی او د افغانستان پر اسلامي امارت او د اسلامي امارت پر مشرانو یې د هغه لیکنې بې اساسه او له واقعیتونو څخه لرې بللې دي.

مجاهد ویلي دي: زموږ په باور د حسن عباس په نامه کس د کوم استخباراتي ارګان ګمارل شوی اجیر دی، چې کوښښ یې کړی په خپلې ناکامې هڅې سره دریاب ناپاکه کړي.

د یادونې وړ ده چې د حسن عباس په نامه پاکستاني الاصله امریکایی په کتاب (THE RETURN OF THE TALIBAN) کې ادعاوې شوې چې ګنې د افغانستان اسلامي امارت استقلال نه لري او ګواکې کړه وړه یې د کوم بل هېواد د استخباراتي او نظامي چارواکو تر څار لاندې دي؛ خو د افغانستان اسلامي امارت مسئولین ډاډ ورکوي چې اسلامي امارت د استقلال ګټلو، ساتلو او پاللو یو ویاړلی داستان او تاریخ لري او دا صف او مشران یې د آزادۍ او خپلواکۍ په وروستي حد کې قرار لري.

وهاج

## له پاکستاني چارواکو ...

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست په مشرۍ پلاوي تر دې وړاندې هم له پاکستاني چارواکو سره بېلابېلې ناستې درلودې.

د یو بل خبر له مخې، د افغانستان د بهرنیو چارو او سوداګرۍ وزارتونو سرپرستانو او مل پلاوي د پاکستان په پلازمېنه اسلام اباد کې د دغه هېواد د سیاسي ګوندونو له یو شمېر مشرانو سره وکتل.

په یاده کتنه کې د اسلامي امارت په پرمختګونو سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ په دوه اړخیزو مشترکاتو، سیاسي، سوداګریزو، ترانزیتي او اقتصادي ګټو خبرې وشوې.

د ناستې ګډونوالو ټینګار وکړ، چې د دواړو ګاونډیو هېوادونو د حکومتونو او ولسونو ترمنځ دې نژدېوالی راشي او په ازادانه توګه دې د دواړو ولسونو لپاره د تګ راتګ زمینه برابره شي.

د یو بل خبر له مخې؛ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي او د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال عاصم منیر د دواړو هېوادونو ترمنځ پر سیمه ییز امنیت، د خلکو تګ راتګ کې اسانتیاوو او افغان کډوالو اړوند مسایلو هراړخیزې خبرې اترې وکړې.

## د بهرنیو اړیکو پرمختګ ...

وي، مناسب تولید او پیداوار ولرو او نور هم دلته د خپلو ګټو لپاره مناسب فرصتونه وګوري، په هماغه کچه زموږ بهرنۍ اړیکې هم پراخېږي او موږ به په هماغه وزن تلل کېږو، البته دا یو واقعیت دی، چې پاکستاني چارواکي په هرصورت زموږ ځواکمنې د ځان لپاره یو خطر ګڼي، بنا پردې ښایي تل هڅه وکړي چې افغانستان کې هر واکمن حکومت پرڅه ناڅه سرخوږي مصروف وي، دا په داسې حال کې ده چې دا وخت پاکستان خپله هم د انرژۍ له سخت کمي سره لاس ګرېوان او له منځنۍ آسیا سره پراخې سوداګرۍ ته شدیده اړتیا لري، کومه چې د ترانزیت لپاره له ټولو غوره لاره یې افغانستان دی، خو بیا هم د خپلو هماغو مجبوریو له امله د تاپي اوکاسا زر په شان مهمو ګټمنو پروژو ته زړه نه شي ښه کولای، په همدې اساس یې له افغانانو سره هر مجلس یوازې په الفاظو کې پاتېږي او هېڅکله یې څه محسوسه پایله نه ده لرلې، ځکه خو موږ ته هم لازمه ده چې ځان له کاره ونه باسو او ډېر حساب هم پرې ونه کړو، بلکې ټول وختونه د هېواد پرمختګ د نظام ټینګښت او له ځینو نورو هېوادونو سره د اړیکو رغولو کې مصرف کړو.

## ننګرهار کې د کانال مالدارۍ فارم...

له املـه دوی هره ورځ له ۵۰۰ تر ۵۵۰ لیټره شیدې تولیدوي او هیله لري چې دا کچه به همدا سږکال ۷۰۰ لیټرو ته ورسېږي. د حیواني روغتیاپالانو په باور، د مالدارۍ د تولیداتو په لوړوالي کې په سالمه توګه د مالونو ساتل او په وخت درملنه هم د پام وړ رول لري.

## لغمان کې د پنځو پراختیایي ...

وکړې چې د پروژې په پلي کولو کې پوره دقت او پر وخت یې کارونه بشپړ کړي. ورته مهال د مهترلام ښاروال مولوي رحمت الله شهامت وویل، چې د دغو پروژو چارې به د پنځو میاشتو په موده کې بشپړې او په کې به ۲۵۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شي. شهامت زیاته کړه، چې د دغو پروژو سربېره مهترلام ښاروالۍ په پام کې لري نورې پروژې هم پلې کړي.

## د افغانستان ثبات ...

مسایلو په تړاو خبرې کړې دي. ورته مهال د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست د پاکستان د سوداګرۍ له وزیر سره د ګډو پراختیایي پروژو، سوداګریزو او ترانزیتي ستونزو په تړاو خبرې کړې

## اقلیمي بدلون افغانستان...

بدلون د اغېزو د کمولو او د مقابلې میکانیزمونو په موندلو کې له خلکو ملاتړ کوي. ورته مهال دې ټولنې په یوه بل ټویټ کې لیکلي چې اقلیمي بدلون افغانستان سخت اغېزمن کړی او زیاتوي چې وچکالي او سېلابونه به د افغانانو وضعیت لا ناوړه کړي.

## د هېواد لرغونو سیمو ...

په دې وروستیو کې د هېواد تاریخي او لرغونو سیمو ته ګڼ شمېر کورنیو او بهرنیو سیلانیانو مخه کړې او په پام کې ده چې ګڼو سیمو کې د سېلانیانو لپاره نورې اسانتیاوې برابرې شي.

## آمادهٔ پذیرش گردشگران...

در این دیدار، والی بادغیس با خرسندی از سفر این مقام ایرانی به بادغیس گفته است: بادغیس یک ولایت زراعتی است که علاوه بر امنیت خوب، دارای جاذبه های گردشگری فراوان نیز می باشد.

وی افزوده: « ما آماده پذیرش گردشگران ایرانی در محیطی امن هستیم».

همچنین در ادامه این نشست، دو طرف در خصوص تسهیلات فرهنگی، ورزشی، گردشگری و روند صدور ویزا برای مردم بادغیس توسط کنسولگری جمهوری اسلامی ایران در هرات تبادل نظر نموده اند.

گفتنی است که ولایت بادغیس از ولایات امن و در عین حال سرسبز و حاصلخیز در شمال غرب کشور می باشد که جنگلات پسته آن زبان زد می‌باشد.

## پکتیکا کې اغېزمن ...

کمېټې په مالي ملاتړ مو په ٦ ولسوالیو کې هغو کورنیو ته چې د استوګنې لپاره مناسب ځایونه نه لري، یا یې هم په طبیعي پېښو کې کورونو ته زیان اوښتی د دقیقې سروې مطابق مو ورته د بیا رغولو لپاره لومړي قسط پیسې ورکړې.)) منصور زیاته کړه، چې ۶۷ کورونه سرحوضي ولسوالۍ کې، ۱۶۵ ارګون، ۳۳ نکه، ۷۳ زیړوک، ۸۷ ګیان او ۱۴۰ په برمل ولسوالۍ کې انتخاب شوي، چې بیا به ورغول شي.

## کورنیو چارو وزارت...

د علتونو او د روږدو د سرشمېرنې لپاره سروې پیلوي. د امنیې قومندانۍ ویاند وایي د دې سروې لپاره ځانګړې مسلکي ټیمونه جوړ شوي، ترڅو ټولو هغو سیمو ته سفر وکړي، چې پکې د نشه‌یي توکو کښت کېده او هلته به له بزګرانو وپوښتي چې ولې یې د یادو توکو کښت ته مخه کړې وه او اوس د بدیل معیشت په تړاو څه غوښتنې لري. دغه راز په دې سروې کې به د روږدو د سرشمېرنې او د دوی د روږدېدو د علتونو په تړاو هم خپل معلومات راغونډ کړي.

## چینایي پانګوالو بېلابېلو ...

په برخه کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت لخوا د اسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ. نوموړي له یادو پانګوالو څخه غوښتي چې خپل ټول پلانونه او وړاندیزونه چې په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې لري په لیکلي ډول له دغه وزارت سره شریک کړي.

## برگزاری بزرگترین ...

جریان این نمایشگاه قراردادهای زیادی میان صنعت‌کاران، دولت و خارجی‌ها منعقد شود. بزرگ‌ترین نمایشگاه صنعتی در حالی برگزار می‌شود که در حال حاضر سرمایه‌گذاران با چالش‌های از جمله محدودیت انتقالات در سپرده‌های پولی‌شان به داخل و خارج از کشور مواجه اند.

Shariat Daily

# Shariat

Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Monday 08 May 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 176


### وزیرخارجه چین:

## عاملین مشکلات افغانستان دست از تحریم‌ها بردارند

وزیر خارجه چین خواستار رفع تحریم‌ها علیه نظام موجود در افغانستان شده است.
چین گانگ وزیر امور خارجه چین که برای شرکت در ششمین دور مذاکرات سه جانبه میان افغانستان، پاکستان و چین در اسلام آباد به سر می‌برد، با بررسی وضعیت اقتصادی افغانستان خطاب به تحریم کنندگان وکشورهایی که دارایی‌های افغانستان را مسدود کرده‌اند گفت: آنانی که عامل مشکلات مردم افغانستان اند ، دست از تحریم‌های یکجانبه و اعمال محدودیت‌های مالی بردارند و به مسوولیت اصلی خود یعنی پرداختن به بحران افغانستان عمل کنند. او آمادگی بیجنگ را برای حل مشکلات میان افغانستان و پاکستان بیان داشت و گفت: بیجنگ آماده‌ی همکاری با کابل و اسلام‌آباد در حوزه‌های امنیتی و مبارزه با تروریزم است. وی افزود که چین از تعامل میان پاکستان و افغانستان برای رسیدگی به اختلافات فی مابین و پیشبرد مسیر تعامل و همکاری حمایت می‌کند. چین گانگ با اعلام آمادگی کشورش برای توسعه طرح‌های زیرساختی در افغانستان و کمک به بازسازی این کشور افزود که چین آماده گسترش پروژه ترانزیتی مشترک اقتصادی پاکستان و چین به سمت افغانستان است. چین صریحا امریکا را عامل مشکلات در افغانستان می‌داند واز واشنگتن می‌خواهد که با افغانستان برخورد مسئولانه داشته باشد.



### محور بحث مولوي امیرخان متقي با رییس ارتش پاکستان؛

## امنیت منطقه‌یی و سهولت در رفت و آمد مهاجرین

وزارت امور خارجه می‌گوید که مولوي امیر خان متقی، سرپرست این وزارت با جنرال منیر عاصم، رییس ارتش پاکستان در مورد امنیت منطقه‌ای و سهولت در رفت‌وآمد مهاجرین افغانستانی دیدار و گفت‌وگو کرده‌است. حافظ ضیا احمد، معاون سخنگوی وزارت امور خارجه امارت اسلامی دیروز با نشر تویتی، از دیدار مولوي امیرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه امارت اسلامی با جنرال منیر عاصم، رییس ارتش پاکستان خبر داد. ضیاء احمد گفته است که در این دیدار دو طرف در مورد امنیت منطقه‌ای و سهولت در رفت‌وآمد مهاجران افغانستانی به پاکستان گفت‌وگو کرده‌اند. گفتنی است که امیرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه امارت اسلامی روز جمعه، ۱۵ ثور به منظور اشتراک در نشست سه‌جانبه وزیران خارجه پاکستان، چین و افغانستان به اسلام‌آباد سفر کرد.



## زرداري: د افغانستان ثبات د سیمې لپاره مهم دی

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي چې اسلام اباد او بیجینگ په افغانستان کې د سولې او ثبات غوښتونکي دي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بوټو زرداري له خپل چیني سیال سره په غونډه کې ویلي، چې په افغانستان کې سوله او ټیکاو د سیمې د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره مهم دی. بلخوا، د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر د چین د بهرنیو چارو له وزیر سره د سیاسي، سوداګریزو، اقتصادي او ترانزیتي مسایلو په ګډون د بېلابېلو ۵مخ





## بلخ کې ۴۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوه



د بلخ ځایي مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې د یوې کارخونې په جوړولو سره ۴۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.
د خان زاده عبدالرحیم د اوسپنې ویلې کولو فابریکې مسوول...۵مخ

## د حسن عباس کتاب او په اړه یې غبرګونونه

یو شمېر کارپوهان وایي چې د حسن عباس په نامه پاکستاني الاصله امریکایي په کتاب کې پر اسلامي امارت او د اسلامي امارت پر مشرانو له حقایقو لرې موضوعات لیکل شوي دي.دوی، حسن عباس یو پردي پال او استخباراتي مامور بولي چې غواړي د دښمنو کړیو په اشارې سره، د افغانانو کړي، خو دا هڅې به ځکه ناکامه وي چې د اسلامي امارت ډېر سپېڅلي، مدبر، خپلواک او مبارز خلک دي او د دوی اتحاد، اتفاق او غیرت و چې هېواد یې له اشغاله خلاص او اسلامي نظام یې حاکم کړ.په همدې حال کې، سیاسي کارپوه ممتاز جهانګیر په خپله تویټرپاڼه لیکلي دي: حسن عباس




ترمنځ د نفاق تخم وشیندي او دوی په خپلو کې بې باوره کړي.
د افغانستان اسلامي امارت د ویاند مرستیال قاري یوسف احمدي، حسن عباس یو جاسوس بولي او وایي: حسن عباس د پردیو استخباراتو ګومارل شوی جاسوس دی چې غواړي په خپلو ناکامو هڅو د اسلامي امارت پر سپېڅلو مشرانو، خلک بدګومانه چې یو پاکستاني الاصله امریکایي دی او د امریکا په مختلفو پوهنتونو کې یې زده کړې کړې دي؛ اوس د امریکا په ملي دفاع پوهنتون کې رسمي دنده لري.هغه زیاته کړې ده: دا ځان پلورونکی پردي پاله لیکوالان د همدې کار لپاره روزل شوي او ګومارل شوي دي چې، څنګه د افغانانو د مېړانې تاریخ او فرهنګ ۵ مخ

## والي بادغیس:

## آماده‌ی پذیرش گردشگران در فضای امن استیم

محمد صدیقی فر، سرکنسول جمهوری اسلامی ایران در هرات، در سفری به ولایت بادغیس، با ملا عبدالصمد جاوید والی این ولایت دیدار کرده است.به گزارش خبرگزاری آوا؛ در این دیدار مولوی شیر احمد عمار، رئیس نمایندگی وزارت امور خارجه در هرات، نیز حضور داشته است. ص۵




## ننګرهار کې د کانال مالدارۍ فارم د شیدو کچه لوړه شوې

د ننګرهار د کانال اړوند مالدارۍ فارم د شیدو کچه تر پخوا نېږدې دوه برابره لوړه شوې ده. د ننګرهار د کانال اړوند مالدارۍ فارم چې پر شاوخوا ۱۷ جریبه ځمکه په دولتي کچه د غو لسیزو پخواني جوړ شوی فارم دی، د بېلابېلو نسلونو د غواګانو روزنه او پالنه په کې کېږي. دمګړۍ دغه فارم ۲٦۰ غواګاني لري چې له دې یې ۵۰ غواګانې شیدې ورکوي. د ننګرهار د کانال وادي کرنیز شرکت د مالدارۍ فارم امر شکرالله نورزي ازادي راډیو ته وویل، چې په اوس وخت کې دغه فارم ته د زیاتې...۵مخ

## بازداشت ۱۳ تن در کابل

سیزده تن در پیوند به جرایم مختلف از مربوطات ناحیه نهم شهر کابل از سوی پولیس بازداشت شدند.دفتر مطبوعاتی قوماندانی امنیه کابل دیروز با نشر این خبر گفت که: پولیس حوزه نهم قوماندانی امنیه کابل سیزده تن را در پیوند به سرقت و قمار بازی بازداشت کرد.از میان افراد بازداشت شده دو تن به اتهام سرقت و ۱۱ تن دیگر به اتهام قمار بازی دستگیر شده اند.



## لغمان کې د پنځو پراختیایي پروژو چارې پیل شوې

د مهترلام ښاروالۍ له لوري د دغه ښار په بېلابېلو سیمو کې د۳ میلیونو او ٦۰۰ زرو افغانیو په لګښت د پنځو پراختیایي پروژو د بنسټ ډبرې کېښودل شوې.د دغو پروژو د پیل په مراسمو کې د لغمان والي قاري زین العابدین عابد وویل، چې په یادو پروژو ۳ میلیونه او ۶۰۰ زره افغانۍ لګښت راځي چې د موټرو تم ځای، پلچکونه، پلې لارې، د ویالو سنګ کاري او د فاتحه خوانۍ خونې د بیارغونې چارې په کې شاملې دي. ، د پنځو میاشتو په موده کې به یې کارونه بشپړ شي چې ۲۵۰ کاریګروته پکې د کار زمینه برابره شي.قاري عابد د پروژې له تطبیق کوونکي شرکت او مهترلام ښاروالۍ ته سپارښتنې ۵ مخ



## سرپل کې یو سړک ورغول شو

د سرپل د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وایي، چې په یاد ولایت کې یو کیلومتر فرعي سړک د بلغلي سیمې د اوسېدونکو له لوري رغول شوی دی.د سرپل د اطلاعاتو او کلتور ریاست د خپرونو آمر ایام الدین یولداش وویل، چې د زنجک درې په نوم دغه سړک د سیمې د خلکو له لوري جوړ شوی، چې د بلغلي او کوهستاناتو کلي له قشقري او وروسته د ښار له مرکزسره نښلوي.
د یادونې وړ ده چې د دغه سړک په بشپړېدو سره د یادو کلیو د اوسېدونکو په تګ را تګ کې آسانتیاوې رامنځته شوې دي.



## آغاز کار اعمار ۵ مسجد در غور

کارساخت پنج مسجد ، دیروز درغورآغازشد.این مساجد، قرار است در ولسوالی الله یار ساخته شود و هزینه ی ساخت آن را روستا نشینان خود می پردازند.
شیخ مولوی عبدالواحد حماس سخن‌گوی والی غور گفت که این مسجد ها قرار است در روستا های دهن درام، غارموشک، چشمه ی چهار، غارگیردک و رباطک ساخته شود.درتاسیسات این مسجد ها، مراکزآموزش علوم اسلامی ودیگر نیاز ها نیز درنظر گرفته شده است.
این مساجد پس از ساخت، هرکدام گنجایش صدها نماز گزاررا دریک وقت دارا خواهد بود.



## لوګر کې ګڼ شمېر وسلې او مهمات ونیول شول

د لوګر د خوشي ولسوالۍ امنیتي مسوولین وایي، چې په دغه ولسوالۍ کې یې ګڼ شمېر وسلې او مهمات نیولي دي.د خوشي ولسوال مولوي رحمت الله عثماني وویل، چې دغه ویلې او مهمات په میانه کلي کې د پخواني حکومت د یوه مسوول له کور څخه تر لاسه شوي دي.نوموړي زیاته کړه، چې په دغو وسلو او مهماتو کې ۱۳۵ د ۸۲ توپ ګولۍ، یوه‌دهشکه،٦ میله۱۱ ټکه، یومیل ۱۰۰ ټکه،۱۸ صندوقه‌ړدهشکې ګولۍ، ۱۵۰۰ د کلاشینکوف ګولۍ، ٦ حلقې لاسي بمونه او نور بېلابېل وسایل نیول شوي دي.هېره دې نه وي، چې تېره ورځ کونړ کې هم لسګونه میله‌سپکې او درنې وسلې کشف او ترلاسه شوې وې.



## د مزارشریف ښار د ونو خړوبولو لپاره ۴۱ څاګانې کیندل شوې دي

د مزار شریف ښاروالۍ مسوولین وایي، چې په دغه ښار کې د ونو خړوبولو او سمسورتیا لپاره ۴۱ څاګانې کیندل شوې دي.
د مزارشریف ښاروال مولوي نقیب الله طارق وویل، چې په تېر یوه کال کې د یاد ښار د ونو خړوبولو او سمسورتیا لپاره ۴۱ څاګانې کیندل شوې دي، دا په داسې حال کې ده چې په تېر حکومت کې په یاد ښار کې ۳ څانګې موجودې وې او د اسلامي امارت له بریا وروسته ۴۱ نوې څاه ګانې کیندل شوې دي.

